***دمقالې لیکوونکی*** : *ګری لیچ(Garry Leech).*
**منبع او دخپریدو نیټه :** *ګلوبال ریسرچ « ۳۰- ۳- ۲۰۱۶-».*
***ژباړونکی*** : *پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .*

-----------------------------------------------------

# *اسلامي افراطیت دغربي امپریالیزم محصول*

*Islamic Extremism is a Product of Western Imperialism*

*لکه همغسی چي مونږ په دی هڅه او اند کی اوو چي دتروریزم دحملاتو دشرایطو په اړوند یوڅه پوهاوی اوپیژند نه تر لاسه کړو نو همغسی شو چي مونږ په بروکسل کی دورستیو تروریستی بریدونو خبرمو واروید اودهغه صحنی عکسونه مو په تولنیز رسنیو کی ولیدل نومخکی له هر څه نه مونږ په دی پریکړه وکړل چي مونږ باید دتروریزم عوامل او دهغه په موجبا تو اواسبا بو باندې ځان پوه کړو اودهغو عواملو بیخ اوریښی وڅیړو . په هرصورت وروسته له هر څه نه تول په دی باند پوه یو چي اسلامی افراط ګرایی اوځان وژنه (انتحار) هغه دوه کرغیرن او ناوړه کړنی اوعمل دی کوم چي تقریباً پنځوس کاله مخکی چا وهغه سره آشنا نه وه اوحتی چي څوک دهغه د نوم سره پیژند ګلوی نه درلودل اوله هر اړخه غیر ممکن په نظر راتله چي یوه ورځ به دغه ناوړی عمل تر سره شی اما له بده مرغه نن دغه دوه نا وړی او کرغیرن کړنی زمونږ دورځنی ژوند سره مخا مخ او په تیکر کی ولویدلی دي – نو دلته یو سوال رامینځته کیږی اوهغه داچی :* ***څه وشول چي دغه اسلامی افراطګرایی د نړیوال سیا ست په سر لیکه کی ځای ونیول .***



*په هرصورت دلته یولړزیا ت عوامل اوفکتورونه شته دی چی هغو ته باید اشا ره وشی کوم چي ددی سببی عواملو له جملې څخه لمړنی اواسا سی عامل یوهم غربی امپریالیزم دي. اوهغه داچی دتیر پیړی په اوږدوکی غربی نړی ددی د پاره چی د سیمی یا دمنطقی*

د تیلو (نفت) پر زیرمو با ندی لاسرسی ترلاسه کړی په مینځنی ختیځ کی مداخله وکړ
چی دهمدی مداخلی په نتیجه کی داسی یو منا سب چاپیریال د اسلامی بنیاد ګرایی د ودی
د پاره را مینځته شو اودغه نوی اسلامی ډلی دامریکی دمتحده ایالاتو د ګټی د ترلاسه
کولو پر ضد عربی ناسیونا لستی کرکی په تتدریچی بنی سره راوپارید ل په وده او
په پرمختګ با ندی پیل کړ دامریکی دمتحده ایالاتو پر ضد دغه اقدام او کرکه دعربی
نړی په ټولو برخو کی خپل لمن وغوړول کوم چی ددی ضد امریکای قوتونو له مینځ
څخه ځنی اسلامی افراطګرایی ډلی ټپلی د پوره خشونت داوصا فو په لرلو سره خپل
موجودیت داسلامی دولت په بڼه سرراوچت کړ یعنی دغه اسلامی افراطی دولت وروسته
له هغه چی دامریکی متحده ایالات پرعراق باند تجاوز وکړ اود همدی تیری داړو دوړو
په پایله کی دغه دعراق اود سوری تر نامه لاندی اسلامی افراطی دولت رامینځته شو
چی مونږ ټولو اوس دهغه دولت کړنی پخپلو رنو سترګو سره وینو .



دامریکی جمهور ریس ریګن دافغان مجاهید ینو سره په سپینه مانی کی
کال (۱۹۸۳)

ددی دپاره چی ددغه اسلامی افراطی دولت رامینځته کید و درک او پیژندګلوی تر
لاسه کړو نو مخکی له هر څه نه باید په لنده توګه دغرب دلاس وهنی پر تاریخ باندی
نه یوائی په مینځنی ختیځ کی بلکه دنړی په نورو ټولو برخو باندی یو څه تم شو


چې دهغه په رڼا کې یو څه معلومات موترلاسه شي - بې ویلو دی پاتې نشي چې دغه افراطي اسلامي دولت نه یواځې د یو بې ساري پدیدې په بڼه رامینځته شوی بلکه خلکو دنړی په ټولو برخو کې په تیرو (۵۰۰)کلونو کې دتاوتریخوالي څخه کار اخیستل



اما نن دغه تاوتریخوالي یا خشونت په کلاسیکه بڼی سره دتروریزم تر عنوان لاندی رامینځته شوی کوم چې دغربي امپریالیزم پر ضد په مقاومت لاس پوری کړی دی.
د تاریخ د یا داشتونو په نظر کې نیولو سره د یادونې بل وړ مطلب یو هم داچې دامریکې دمتحده ایالاتو بومي ( دامریکې د خاوری اصلي وارثان) خلکو اغلباً داروپاي وحشي ښکیلاک ګرو( استعمارګرو) په وړاندی له خپل ځان اوله خپل وطن څخه سا تنه د تاوتریخوالي اود خشونت دتکتیکونو په کار وړلو سره دفاع او مقاومت کول همدارنګه هغه افریقاي توریوستي چې له افریقا څخه دبرده یا دغلام په بڼه امریکې ته را وستل شوي وه اود امریکې دامپریالیزم تر جغ لاندی دبردګې ورځې تیرول هغوی هم دهمدې ورانکار امپریالیزم په مقابل او پرضد په خشونت اوپه تاوتریخوالي باندی لاس پوری کړل چې دهغه تاریخ ټولو ته معلومه دی .
دیورتنیو یادونو په دوام سره باید ووایو چې د تاوتریخوالي څخه یادونه دنړی په یوه بله څنډه کې هم دتاریخ په په پاڼو کې یاداشت شوی چې دغه ساحه د آسیا په سهیلي ختیځ کې د فلیپین دخلکو شخړیز اودتاوتریخوالي ستر مقا ومت د اسپا نویا نو داستعمار په وړاندی وه چې په ډیر شدید بڼی سره دخپل ځان اودخپل وطن څخه ساتنه کول اوبیا

له بده مرغه وروسته له هغه په کا ل (۱۸۹۸) کی فلیپین ددوهم ځل دپاره دامریکی دمتحده ایالاتو د نوی استعما ری حا کما نو تر ولکی لاندی پریوتل چی په دی وخت کی په ظاهری بڼه سره دواشنګټن د نوی استعماری غړو موضوعات دجمهور ریس دهغه ګستاخانه اوله غروره ډک اعلامیه کی د قد ر دانی وړ ونه ګرځید اوداځکه چی جمهور ریس ویلیهم مکینلی (William McKinley) په دی اعلامیه کی داسی په ډاګه کړی وه چی دغه موضوعات خپله دفلیپین دخلکو تمدن اودهغوی مسیحت په متعادل بڼی سره نشی اوچتولی له بلی خوا څخه په کال (۱۸۰۰) کی دافریقی دوچي په جنوب کی د زولو (Zulu) خلکودبریتانیا د تمد ن دپلی کولو په وړاندی دمقاتومت او د تاوتریخوالی سره مخامخ شو – وروسته له هغه غربی امپریالیزم هغه کسا نو ته کوم چی د هغوی داهدافو د پلی کولو په مقا بل کی په تاوتریخوالی سره مقا ومت وښودل پر هغوی باندی دترورریستانو نوم کیښودل. اوهغوی یی « وحشی» نومول دا یواځی دبیلګی په بڼه هغه یادونه وه کوم چی د نړی په سراسر اوبیا د نړی په جنوبی برخو کی دغربی امپریالیزم دوحشیانه اوله خشونته د ډک توسعه طلبی په وړاندی خلکو په مقاومت لاس پوری کړل . اوددی خلکو مقاومت نه یواځی دغربی تمدن او دفرهنګ د پلی کولو په وړاندی وه بلکه هغوی د مسیحی کیدو په وړاندی هم له ځانه مقاومت وښودل .

یو له هغو دلایلو څخه چی په دی تازه لسیزو کی اسلامی افراط ګرایی سر را پورته کړ هغه دغربی امپریالیزم مداخله په مینځنی ختیځ کی وه هغسی یومداخله چی غربی امپریالیزم په پیل کی ونتوانید ل چی په دولت ..... کی د پام وړ پرمحتګ رامینځته کړی یعنی دلته څه شی نه وه چی مونږ هغه ترسره کړای وایی بلکه هلته چی هر څه شی وه هغه مونږ ترلاسه او قبضه کړل اومونږ دشلم پیړی تراویلو پوری هلته په مینځنی ختیځ کی خلک وروزل اوهغوی ته مو تعلیم ورکړل کوم چی په پایله کی با ید داسی څرګند کړو اوهغه داچی مونږ لا تر اوسه سره دخپل له تا وتریخوالی ډ ک هڅی اواند سره په دی بریالی نشو چی دهغی سیمی خلک ترخپل ولکی لاندی راولو یا هغوی دخپل ځان تابع وګرځو چی بیا دبیلګی په بڼه د نړی په نورو برخو کی خلک ترخپل فرمان او ولکی لاندی راوړو .



غربی امپریالیزم په پیل کی دمینځنی ختیځ په ځنو هیوادونو کی د سنتی استعمار په بڼه مستقیماً په دولت کی ځا ن ور ګډ کړل اما بیا وروسته له هغه د دی سیمی په نورو هیوادونو کی دخپل استعما ری توسعه طلبی په نظر کی نیولو سره په یو بل شکل سره په هڅه اواند باندی پیل وکړ اودا ځلی دمداخلی بڼه یی داسی وه چی د بین المللی نهادونو لکه دملګرو ملتونو د امنیت شورا ،د پیسو وجهی بین المللی صندوق ، اود نړیوال بانک څخه په ګټه اخیستلو سره خپل نفوذ ته پراخوالی ورکړ او په ضمن کی دامریکی متحده ایالات اودهغه سره شریک غربی اروپا دنړی په نورو برخو کی ددولتونو دنړولو اود له مینځه وړلو دپاره په مستقیم شکل سره په کودتا ګانو او په وژونکوجګړو هم لاس پوری کړل .

دبلی خوا څخه ځنی اروپایی هیوادونو اود هغو په سر کی بیا په ځا نګړی بڼی سره بریتانیا د (۱۸۰۰) کال په وروستیو کی مینځنی ختیځ ته د داخلید و ځنی لاری وموند ل اویو دهغو لارو څخه په ایران کی دتلیو (نفت) کشفول وه چی دهمدی کشف په رڼا کی غربی امپریا لزم داچا نس تر لاسه کړ چی منطقی ته داخل شی - بریتانیا دلته په ایران کی د تیلو شرکت د انګلو فارسی دتیلو دشرکت ( Anglo- Persian Oil Company "APOC") په نوم پرانیستل او ددی شرکت تول واک او اختیاریی پخپل لاس ونیول اوداځکه چی په دی شرکت کی دبریتا نیا سهم او ونډه زیا ته وه ایران یواځي له دی شرکت څخه (۱۶) سلنه ګټی ترلاسه کول نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره بریتانیا دغه شرکت ترخپل مستقیم کتنرول لاندی لرل چی دایرانیا نو دنا رضایتی موجبا ت یی برابر کړی وه نو همغه وه چی ایرانیا نو په یولړ تظاهراتو با ندی لاس پوری کړل او له خپل حکومت څخه وغوښتل چی د خارجی پا نګوالو ونډه اوسهم له مینځ ویسی او دهغوی ملکیت ته دپای تکی کیږدی ترهغه چی په کال ( ۱۹۵۰) دایران پارلمان دخپل خلکو دغوښتنو په ځواب کی رای ورکړل چی د نفتو شرکت دی ملی شی او دخارجی سهام لرونکی سهم دی له مینځه ویسی نو همغه وه چی یو کال وروسته دایران لمړی وزیر« محمد مصد ق » دیو اعلامیی په ترځ کی دایران دنفتو شرکت ملی اعلان کړ.

دامریکی متحده ایالات او بریتانیا له دی نه چی دایران د نفت شرکت ملی اعلان شو خپل نارضا یتی وښودل چی ولی دنفتوشرکت دایرانیا نوترولکی لاندی پریوتل اودشرکت تول ګټی ایران تر لاسه کوی نوهمغه وه چی امریکا او بریتانیا په ایران کی په کودتا باندی لاس پوری کړل اود« محمد مصد ق» سکولار د موکراتیک وګړنی انتخاب کړل شوی حکومت یی را نسکر کړل « شا ه رضا پهلوی» یی بیا له سره د قدرت په څوکی کی کیښنول او «رضا شاه پهلوی» دغه نوی جد ید التقرر د یکتاتور بی له ځنډه د تیلو په شرکت کی دغربی ونډو نیونکو شرکتونو د بیا پا نګی اچولود پاره دهغوی په مخ کی ددی شرکت دروازی را خلاصه کړل او غربی نړیوالو ته دا ډاډ تر لاسه شو چی نوی

*دیکتاتور رضا شاه پهلوی دایران پر خلکو باندی اوس بلکل اوسپنز واک اوکنترول لری نو دهمدی یادونو په نظر کی نیولو سره دامریکی متحده ایالات تر (۲۶) کالو پوری رضا شاه ته نظامی مرستی تر سره کړل او دهغه دسا تنی د پاره دایران مخفی پولیسو ته ځانګړی تعلیم او روزنه ورکړ.*

*دایران دروازی دشاهنشاه د زما مداری اود واکدا ری په دوران کی د تیلو دغربی کارګرانو اودماهرانو په مخ کی خلا صه پریښودل شو اوتهران د ایران پلازمینه دنفت دصنعت د کارګرانو اود هغو د لوړو معا شونو په تر لاس کولو سره د فساد - فحشا اودعیا شی په یوه محیط اویا په یوه ښار بد له شو یعنی په هغسی یو محیط چی هلته په ښکا ره بڼی سره ځنی ضد اسلامی کړنی تر سره کید ل لکه شراب څښل – قمار وهل -ګازینو ته تلل - فحشا ...... اوداسی نور سربیره پرهغه د تیلو تول لاسته راغلی ګټی او پیسی د خارجیبا نو د شاهنشاه او دشاهنشاه د دوستا نو او د خپلوانو جیبونو کی غورځید ل اودایرن ډیری متوسطی طبقی د خپل بقا او د ژوندی پا تی کیدو سره په مبارزه کی لاس په ګریوان وه نودلته نوردتعجب اودحیرانتیا ځای نه وه پاتی چی اسلامی بنیاد ګرایی په مبارزه لاس پوری نکړی لکه چی همدغسی هم وشویعنی ایرانی اسلامی بنیاد ګرایان دغربی امپریالیزم اودهغه دانحطاط اود نسکورولو په فکر سره خپل صفونه را برابر کړل اودا ځکه چی دایران پاچا پخپلو کړنو سره نه یواځی دا چی اسلام ته سپکا وی کید له بلکه خیله دایران خلک هم دهغه له کړنو څخه رنځ وړل او سپکید ل داهغه داستان اوهغه ماجراوه چی دایران د ډ یری متوسطی طبقی په آذها نو کی ځای بر ځای شوی وه ترهغه چی په کال ( ۱۹۷۹) کی دامام حیا ت الله «خمینی» تر مشری لاندی یو وګړنی انقلاب تر سره شو او دشا هنشاهی ځپونکی رژیم را نسکور او دهغه پر ځای یو اسلامی دولت ځای پر ځای شو .*

*په ایران کی دامریکی د متحده ایالاتو د لوبی اود نقش د انعکاس په اړه دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نیو چارو د وزارت مخکینی وزیره مادلین البرایت ( Madeleine Albright) داسی څرګندونه وکړ :د ا مریکی متحده ایالات په کال ( ۱۹۵۳) کی دایران د نا متو لمړی وزیر«محمد مصد ق» د سکولار د موکراتیک اود خلکو په خوښه سره د منتخب حکومت د رانسکورولو د پاره د یوکود تا په ترڅ کی د پام وړ سازماندهی په ترسره کولو سره هغه له واکه لیری کړ اود ایزنهاور اداره په دی باور وه چی دهغه داداری اقدامات دستراتیژیکو دلایلو یوه توجیه وه اما په ایران کی دغه کود تا دایران دراتلونکی پراخ دیپلوماسی د پا ره یو روښانه ماتی او شکست وه چی تر سره شو. نو ددی پورتنیو یادونو په نظرکی نیولو سره نن ډیر آسان ښکاری چی ولی ډیری ایرانیان دامریکی مداخلی ته پخپل داخلی چارو کی په کرکه اوپه نفرت سره ګوری*

*متحده ایالات او بریتانیا دایران منتخب دموکراتیک سکولار دولت دکودتا په ترڅ*

کی له مینځه ویوړل اووروسته بیا دیو بی رحم دیکتاتور ځخه ددی دپاره چی په داده زړه دنفت ګټی اودهغه تجارت پخپل لاس کی ولری ملاتړ وکړل اودهغی ترشا ودرید .

البرایت دخپل خبرو په دوام کی وایی مونږ نه یواځی داچی دغربی امپریالیزم دپالیلو په معاملاتو کی دایران سره په اړین ، ستونزی لرویا د هغه سره په معا ملاتو کی راګیر اوبخت یو بلکه زمونږ بله ستونزه دایران سره په معاملاتوکی دایران ملاتړ د یو اسلامی افراطی ګروپ یعنی له حزب الله ځخه په منطقه کی دی .

په همغه کال کوم چې په ایران کی یو اسلامی دولت رامینځته شو شوروی اتحاد په کابل کی د خپل ترلاس نا ستی منفور رژیم چی د مخکی په وده شورش سره مخا مخ وه دملاتړاودهغه دسا تنی په منظورپرافغانستان باندی یرغل اوتجا وزوکړ. شورشی افغانی مجاهیدن لکه د اسلامی انقلابیون په شا ن چي په ایران کی دغرب ترملاتړلاند ی د دیکتاتوری دولت په وړاندی مبارزه کول داځلی دلمړی ځل دپاره افغانی مجاهید ینو ته دبری اوبریالیتوب زمینه دشوروی اتحاد په تجاوز سره داسی برابر شو چی د هغوی په خبره مونږ دیوکمونیستی اوملحد رژیم سره چی دوی هم امپریالیستان دی په جګړه کی راښکیل شوی یو اوبریالیتوب زمونږ دی –دشوروی تجاوز پر افغانستان باندی دمجاهیدینو دقدرت دپیاوړی کیدو یواځنی دلیل دا وه چی د اسلامی نړی له سرتا سره ځخه د اسلام دعقیدی کلک خاوندان دجها د داصل په پیروی سره دشوروی اتحاد په مقابل کی د افغانی مجاهید ینو په لیکو کی سره ځای پر ځای شو. په زرګونو هغه مجاهید ن کوم چی له سعودی عربستان ځخه افغانستان ته دشوروی قوتونو سره د جګړی د پاره استخدام شوی وه ډیری دهغو دوهابیت دطریقی خاوندان وه یعنی دهغسی یو طریقی کوم چی د اسلام ځخه دیو بیل فرقی په بڼه په نړی کی د اسلام افراطی په نوم سره مشهور اوله یوسره وها بیان دی دغه ډله یا فرقه د لمړی ځل د پاره په عربستان سعودی کی د سنی پلو مسلما نا نو له مینځه ځخه سر راپورته کړل .

دامریکی متحده ایالات پرافغانستان با ندی د شوروی اتحاد تجاوز اویرغل دسړی جګړی دعینک ځخه په لید لوسره دافغا نی داسلامی افراطی مجاهید ینوسره خپل نظا می اومالی کمکونه پیل کړ د(۱۹۸۰) کال په اوږدو کی واشنګټن افغانی مجاهید ینو سره د (۴) میلیارده دالرو معادل ما لی اوتسلیحا تی مرسته ترسره کړ کوم چی دهمدی ما لی او تسلیحاتی کمک سره افغانی مجاهید ینو دستر قوت ځینتن شو او همدارنګه دهغو دمورال داوچتولو دپاره دامریکی مخکینی جمهور ریس «رونالد ریګن» افغا نی مجاهید ینو ته د (آزادی بخښونکی مبارزین ) نوم اوعنوان ورکړ. یو له هغه کسانو ځخه چی دامریکی له دغه حاتم طایی مابانه مرستی ځخه ګټی تر لاسه کړ هغه د سعودی عربستا ن ځخه «اسامه بن لادن » وه - ددغه مجاهید ینو د مبارزی ځخه لمړنی هد ف او مرام دا وه چی با ید دیواسلامی هیوادله قلمرو ځخه دغرب نظامی ځواک له مینځه ویسی اودهغوی داقتدار تیغر راتپول کړی مجاهید ینو خپل مرام ته وروسید اوپخپل مبارزه کی وتوانیدل

چې په کال (۱۹۸۹) دشوروی اتحاد نظامی قوتونه له افغانستان څخه و باسی اوپه دې ډول بریالیتوب تر لاسه کړل . اووروسته بیا له بده مرغه په کال (۱۹۹۶) کی دمجاهدینو مختلفی فرقی پخپل مینځی اختلافاتو په لرلو سره دداخلی جګړی لمن پراخه شو او په افغانستان کی داخلی جګړه پیل شو او بیا وروسته له هغه طالبانو ته دقدرت دترلاسه کول زمینه برابر شو اوهغوی په افغانستان کی اسلامی بنیاد ګرا دولت رامینځته کړ .



10 / INTERNATIONAL

THE INDEPENDENT

MONDAY 6 DECEMBER 1993

The Saudi businessman who recruited mujahedin now uses them for large-scale building projects in Sudan. Robert Fisk met him in Almatig

# Anti-Soviet warrior puts his army on the road to peace

'What I lived in two years in Afghanistan, I could not have lived in a hundred years elsewhere,' said Osama Bin Laden

Osama Bin Laden surveys the 800km road he is building in northern Sudan

Daily service to the USA

ONLY ON

THE WEEK AHEAD

Gatt set

A lesson i the langu

یو بریتانیوی پیژندل شوی ورځپانه د ډیلی اندیپیندنت (Daily independent) په نوم په کال (۱۹۹۳) کی دیو مقالی په ترځ کی داسی روښانه کړه : چی «اسا مه بن لادن» دغرب له نظره دهغه نقش په لوبولو سره چی دافغانی مجاهدینو په مینځ کی ولوبول یو جګړه ما ر دی نه یو تروریست، ددغه ورځپا نی په سر مقا له کی دغه عنوان په غټو ټکو لیکل شوی دی : **« دشوروی اتحاد ضد جګړه ما رخپل پوځ دسولی په لار کی پلی کړ »** همدارنګه په دی مقاله کی توضیح شوی چی بن لادن دخپل نه ستړی کیدونکی کار سره دسودان بی وزلو هیواد کی په کال ( ۱۹۹۰) کی لاری جوړ کړ دا نه چی بن لادن په دی هیواد کی یواځی لاری جوړ کړ بلکه هغه دخپل مجاهدینو سره په ګډه یو نوی سازمان را مینځته کړ چی هغه سا زمان یی دالقاعدی په نوم سره ونومول او دخپل سازمان اصلی هد ف یی داسی څرګند کړ چی دهغه سازمان ما موریت به له اسلامی

*هیوادونو څخه د غربی نظامی قوتونو اخراج اوویستل وی لکه هغسی چی افغانی مجاهید ینو روسی لښکر له افغا نستا ن څخه وویستل اوداځلی ددی وار راغلی دی چی باید امریکایی سرتیری چی په عربستان سعودی او دخلیج د لمړی جګړی څخه وروسته کوم چی په کویټ کی ځای پر ځای دی هغوی باید له دی هیوادونو څخه په زوره وویستل شی نو ددغه اظهاراتو په وړاندی کولوسره «**بن لادن** » دغربیا نو له نظره له یو «**آزاد جګړه ما ر** »څخه په یو« **تروریست** » با ندی دیوشپی په تیریدو سره بدله شو حال داچی داحتی دبن لادن اودهغه دپلویانوپه کړنلاره کی څه بدلون هم لا نه وه راغلی اوهغه داچی هغوی دشوروی اتحاد اودامریکی دسرتیرو په اړین یونظر لرل اوهغه چی دا دواړه قوتونه اشغالګر دی اوباید چی داسلامی هیوادونو له قلمرو څخه وویستل شی په نهایت کی دغرب مداخله په اسلامی نړی کی لمړی له هر څه نه حالات داسی چمتو کړچی باید دالقاعده سازمان مینځ ته راشی همدارنګه دشوروی اتحاد مداخله په افغانستان کی دخپل لاس ناستی منفوررژیم دملاتړ په منظوریا دمتحده ایالاتوملاتړداسلامی افراطی مجاهید ینو څخه په اسلامی هیوادونو کی او همدا شان په سعودی عربستان او په کویټ کی د خلیج د لمړی جګړی څخه وروسته دامریکی د نظامی اډو (پایګاه) ځای پر ځای کیدل ټول هغه دلایل او عوامل دی چی اسلامی بنیادګرایی خپل سر را پورته کړ لکه دالقاعده سازمان اود طا لبا نو اود مجاهید ین ډلی ټپلی چی نن د قوی او کلک قوتونو څیښتن دی . یعنی دغه پیاوړی قدرت په اسلامی نړی کی دغربی نظامی ځواک دظلم اود تعدی په له مینځه وړلو کی مسلمانان را پاروی چی د غرب د امپریالیزم سره په جنګ اوجګړه کی دخپل آزادی دترلاسه کولو دپاره راښکیل شی او همداشان په منطقه یعنی مینځنی ختیځ کی دامریکایی پلوچوپړ رژیمونه سره خپل مخالفت څرګند اونړیوالو ته وښیی چی امریکا داسرایل څخه ملاتړ کوی یعنی دهغسی یو منحط اوفساد پیشه دولت څخه چی دفلسطین پرخلکو باندی له کلونو کلونوڅخه راهیسی ظلم وتعدی کوی اودهغوی خاوره تر خپل اشغال لاندی نیولی .*

*دنیویارک په ښار اوپه واشنګټن دیسی (Washington DC) کی دالقاعدی دسازمان د سپتمبر دیو لسم کال «۲۰۰۱» نیټی د تروریستی حملی څخه وروسته دامریکی متحده ایالات خپل دضد تروجګړه دافراطی اسلامی ګروپ سره په افغانستان کی پیل او پکار واچول همدارنګه د بوش اداره اودولت د سپتمبر د یولسم پیښی درامینځته کیدو په بهانه اوتوجیه سره په عراق کی له قدرته څخه د «صدام حسین »را نسکورول دهغه د دولت داجندا یوه بله ماده وه چی دهغه دعملی کولو د پاره عملی ګا مونه هم اوچته کړ د بوش د اداری لوړ پوړی چارواکی په پراخه اودروغو ناسمو معلوماتو په تبلیغ او پروپاګند باندی پیل کړل ترڅو چی دامریکی خلک په دی با ورمند او یا قا نع کړی چی صدام حسین دالقاعدی سره په اتحاد اوملګرتیا دسپتمبر د یولسمی نیټی په یرغل کی مستقیماً لاس لری .اوپه ضمن کی صدام حسین یی دتروریست په نوم متهم کړ چی هغه په عراق*

کی د ډ له بیزی وژنـی وسلی لری چی داپخپله دامریکـی د متحده ایالاتو د پروپاګندی ډلی تیلی یوه بله ښکره ور دروغ وه .

دلته دیادونـی وړمطلب دادی چی دملګرو ملتونو دوسلو دڅیړونـکی (باز رسا ن ) په راپور او ګذارش کی داسی په ډاګه شو چی په عراق کی کیمیاوی اویاد ډله بیزی وژنـی وسلی وجود نه لری او عراق خپل ټول کیمیاوی اوبیالوژیکی وسلی یی د ملګر ملتونو دامنیت دشورا د مصوبی په رڼا کی دخلیج دلمړی جګړی څخه وروسته له مینځه وړل دی اما دبوش اداره اودهغه دتبلیغاتو تیم دملګرو ملتونو دوسلو دبازرسان ګذارش ته دنه پاملرنـی او هغه ته د نه اعتنا کولوپه لړکی بیاهم خپل زهرجن تبلیغاتو ته دوام ورکړ، دلته هغه څه چی واقیعت دی اویا دهغه یادول ضروربریښی هغه دادی چی دامریکی د متحده ایالاتو دولت په کال ( ۱۹۸۰ ) کی صدام حسین ته کیمیا وی اوبیا لوژیکی وسلی ورکړی وه هغه وخت کوم چی « صدام حسین» دایران دافراطی اود بنیا د ګرای رژیم سره چی نوی په واک رسید لی وه به جګړه کی وه .

دامریکی جمهور ریس بوش دمارچ په میاشت کال (۲۰۰۳) کی بیله دی چی د ملګرو ملتونو دامنیت دشورا مجوز ترلاسه کړی دټولو بین المللی قوانیو په سر غړونـی سره پرعراق با ندی تجاوز وکړ څلوروځی مخکی پرعراق باندی له تجاوز څخه دامریکی دجمهورریس مرستیال د یک چینی (Dick Cheney) د عراق خلکو ته په خطاب کی وویل چی مونږ دستا سو دآزادی داستقبال د پاره هرڅه چی په وسه کی لرو له تا سو څخه نه سپموو اما یوکال وروسته په هغه وسیع رفرندم (دخلکو دنظر غوښتنه) کی چی دعراق په خلکو کی ترسره شو (۷۱) سلنه عراقیان ولید ل چی د هغو هیواد دامریکا یی سرتیرو تر اشغال لاندی پریوتـی نه هغه (آزادی) کوم چی دیک چینی اعلام کړی وه پس دارنګ عکس العمل هم نه با ید حیرانونـکی وی کوم چی (سل زره ) عراقیان دامریکی د متحده ایالاتو په تجا وز اودعراق په اشغا ل سره خپل ژوند دلاسه ورکړل .

عراق دامریکی دمتحده ایالاتو په نظامی اشغال سره حالات داسی بدله کړ چی دصدام حسین داردو زیا تر نظا می افسرانو اوکارمند ا نو خپل نظا می د ندی دلا سه ورکړل او زمینه دا سی رابرابره شو چی دعراق دغه نظا می افسران اومنسوبین دعراق دشورشی ډلو سره په ګډه دامریکی داشغالګر قوتونوسره په ضد جګړه کی راښکیل شول ، په یاد موباید وی چی پر عراق باندی دامریکی دمتحده ایالاتو دتجاوز څخه دمخه په عراق کی اصلاً هیڅ کوم اسلامی افراطی ډلی ټپلی نه موجود وه اونه هم ترسترګو کیدل اما وروسته له تجاوز څخه دلته په عراق کی اړدوړ او شورش زیات شو اوپه پایله کی دلته دعراق په دننه کی شورشی ډلی سر را پورته کړل او ددی شورشی ډلو زیا ته برخه دالقاعدی په سا زمان کی دهغه سازما ن غړیتوب ترلاسه کړل اولږ څه وروسته دهمدغی اسلامی افراطی ډ لی څخه ځنی ډیر افراطی ګروپونه سره په ګډه د عراق اود سوریی په شمال

کی داسلامی دولت اسا س کیښودل اواسلامی خلا فت یی اعلان کړل پس له هغه دسوری داخلی جګړه په کال ( ۲۰۱۱ ) کی حالات داسی بدله کړ چی د غه داسلامی دولت جګړه ما رو دسوریی له پولو څخه د ننه سوریی ته را و اوړید ل اودلته دسوریی ډیری برخی اوسا حی ترخپل کنترول لاندی راوړل اودهر ی ورځی په تیریدو سره خپل نفوذ او اقتدار ته پراخوالی ورکړاوبیا یو څه موده وروسته دهمدی اسلامی افراطی دولت جنګیالی بیرته عراق ته ولاړل اوپه عراق کی دعراق دپوځ سره چی د امریکی پواسطه سره روزل شوی وه په کال (۲۰۱۴) کی په جګړه راښکیل کیږی اود عراق شمالی برخی تر خپل ولکی لاندی راولی دبلی خوا څخه په عین وخت کی په کال (۲۰۱۱) کی امریکا یی قوتونه پرلیبیا باندی تجاوزکوی دمعمر القذافی دولت را نسکور وی او دهغه هیواد دروازی داسلامی افراطی ډلو ټپلو په مخه خلاص پریږدی اوپه دی بنیاد سره دغه اسلامی افراطی ډلی دافریقی دوچي په شمال کی ځا نته دپښی ځای پیداکوی .

اسلامی دولت د نړی له هرګوټ څخه د ناراضی اود قهرجنو افراطی مسلمانونو په استخدامولو کی لوی بری ترلاسه کوی کوم چی دغه ناراضی مسلما نا ن د عراق وسوریه داسلامی دولت غړیتوب ترلاسه کوی اوبیا په نورو غربی هیوادونو کی خپل تروریستی حملی تر سره کوی چی یو دهمدغو تروریستی حملو څخه په دی تازه وختونو کی پر فرانسه اوپر بلجیم باندی دداعش دتروریستانو حمله وه لکه هغسی چی پروسږکال دانګلستان مخکینی لمړی وزیر تونی بیلر (Tony Blair) په یوخبری ناسته کی په ډاګه کړ چی هوکی دا ریښتیا دی چی پرعراق باندی له تجاوز وروسته اسلامی افراطی دولت را مینځته شو هغه دخپل خبرو په دوام کی وویل چی دلته" هیڅوک به پید ا نشی چی مونږ ته ووایی چی تا سی نشی کولای چی د صدام حسین د دولت په له مینځه وړلو کی له مسولیت څخه خپل ورږه را سپکه کړی او دکال د (۲۰۱۵) دکړکیچنو حالات مسول ونه اوسیږی ؟ .

یوځل بیا لازم ګڼل کیږی چی په خاطر کی راولو اوهغه داچی په مینځنی ختیځ کی دغربی امپریالستانودکړونو اودلاس وهنو په نتیجه کی اسلامی افراطګرایی رامینځته شو اوددی اسلامی دولت درامینځته کید و موضوع نه با ید د نورو د حیرانتیا موجبات برابرکړی اوداځکه چی دا موضوع مخکی له مخکی وړاند وینه شوی وه چی پر عراق باندی دبوش ددولت تجا وز دا زمینه را چمتو کوی چی اسلامی افراطی دولت را مینځته شی او همدارنګه لکه چی مومخکی هم یاده کړی وه دمصدق دواکداری اودهغه ددولت په رانسکوریدوسره کوم چی دامریکی ددولت پواسطه سره پر هغه باندی کودتا شو او بیا وروسته رضا شاه بیرته قدرت ته ورسید حالات داسی مساعد شو چی په پا یله کی په ایران کی یو اسلامی اخوندی افراطی دولت جوړ شی اوبل دلیل کوم چی د اسلامی دولت یا د بنیا دګرایی د ځواک را مینځته کید ل مساعد شو هغه پر افغانستا ن باندی دشوروی اتحاد یرغل اوتجاوز وه چی افغانی مجاهید ن قدرت ترلاسه کړل بل له تولو

نه مهم داچی د امریکی د متحده ایالاتو دولت په سعودی عربستان او دخلیج د لمړی جګړی څخه وروسته په کویټ کی خپل نظامی اډی (پایګاه ) جوړ کړ. داهغه دلایل دی چی ټول دغربی امپریالیزم دمداخلی اودلاس وهنی په نتیجه کی اسلامی افراطی دولت رامینځته کیږی !

دامو باید په یاد وی چی غربی امپریالیزم په تیرو پیړیو کی د مینځنی ختیځ په نورو برخوکی هم د اسلامی افراطګرایی په مینځ را تلو کی خپل ستر ونډه تر سره کړی دی اوهغه دا چی کله عربی هیوادونه په مینځنی ختیځ کی وروسته د دوهم نړیوال جګړی څخه آزادی تر لاسه کړل په دی وخت کی د امریکی د متحده ایالاتو دولت اودهغه سره شریک اندېیوال بریتا نیا په اروپا کی یهودیا ن ولمسول چی سره را ټول شی اود اسرایل په نوم باندی په فلسطین کی خپل ځانته دولت جوړکړی اوله هغه وخته چی داسرایل په نوم با ندی دولت جوړشوی دی دامریکی متحده ایالات دهغه دلا ټینګښت اواستحکا م دپاره خپل ستر ما لی - ما دی او معنوی اوروزنیز کمکونه کړی اولاتراوسه بی له کوم قید اوشرط خپل مرستی ترسره کوی یعنی دهغسی یو نافرمان دولت سره کوم چی هغه دهرډول بین المللی میثاقونو اوقوانینو څخه پوره سرغړونی کوی اودفلسطین پرخلک له حده وتلی ظلم او ناروا کوی کوم چی دهمدی ډول کړنوپه دوام سره دیوی خوا اودامریکی دبی قیدوشرط مرستو سره له بلی خوا د لته هم ددی زمینه رابرابره شوه چی اسلامی افراطی ډلی سر را پورته کړی او خپل سازمانونه جوړ کړی چی یو له دغه سازمانونو څخه دحماس ډله دی چی داسرایل پر ضد اود خپل نیولی شوی خمکی دآزاد ولو دپا ره په کال (۱۹۸۰) کی دفلسطین په اشغال شوی برخو کی سر را پورته کړ اود اسرایل د دولت پرضد په جګړه او خشونت لاس پوری کړ. یا داچی وروسته له هغه چی دامریکی دمتحده ایالاتو دولت پر لبنان باندی حمله وکړ او په هغه هیواد کی شورروش اوبی نظمی ته لمن ووهل همغه وه چی هلته هم اسلامی افراطی ډلی دحز ب الله په نوم باندی تاسیس شو او دامریکی اوداسرایل پر ضد په جګړه لاس پوری کړ.

مینځنی ختیځ په تیرو سلو کالو کی دتاوتریخوالی په بڼه سره دغربی امپریالیزم تر ګواښ او تهد ید لاندی راغلی دی کوم چی د نړی خلکو دیوی پیړی را په دی خوا دسر په سترګو ګوری اوددغه تیری اوخشونت په مقا بل کی له زغم څخه کار اخیستی دی .

یوه بل مهم یا دونه ا وهغه دا چی مونږ په دی ورځوکی ځنی سیا سی ریښتینی اصطلاحات لکه د «دموکراسی ترویج » د «بشرحقونه » د « مد نیت یا تمد ن» او «مسیحت » په عوض پکار وړو حال داچی دا ټولو سره یوه مفهوم اومعنی لری اما ددی دپاره چی غربی استثمارګر ډلی په آسانی سره دنړی منابع لوټ کړی اویا پر زیرمو باندی لاسرسی ولری نو دغه رنګ ا صطلاحات چی د غرب دفرهنګ محصول بولی پکار وړی اوغواړی چی ددی اصطلاحاتو دکاروړلو لمن په نړی کی لا پراخه کړی دلته دحیرانتیا ځای نشته اوهغه داچی داشان موارد او حالات دنړی په نورو برخو کی

هم له تیرو (۵۰۰) کالو څخه لاتر اوسه موجود دی اود نړی د خلکو او بیا په تیره د مینځنی ختیځ د خلکو قهر اوغضب دامپریالیزم دداسی سیاست او چلند په وړاندی دهر ورځ په تیریدو سره زیاتیږی اوداهم باید تعجب ونه ګڼل شی چی ولی په غربی نړی کی مسلما نان دغربی امپریالیزم دسیا ست په وړاندی خپل کرکه ښکاره نکړی اوپه افراطی کړنو لاس پوری نکړی ؟

په نها یت کی دغربی امپریالیزم ځورونکي اړخونه په اسلامی نړی کی دادی چی دغرب دغه چلند دهرکال په تیریدو سره لاپسی تشد ید کیږی چی په هیڅ بنۍ سره دزغم اود تحمل وړ نه بلل کیږی او دغه ډول پا لیسی د خپل ضد قوت هم را زیږوی لکه چی اوس دالقاعدی اود طا لبانود ډلی کړنه دنورو اسلامی دولتونو لکه دایران داسلامی دولت په پرتله ډیر شد ید او له تاوتریخوالی څخه ډکه دی حال داچی دغه دعراق اودسوریی داسلامی دولت کړنی له نورو ټولواسلامی اوافراطی نها دونو او ډلو ټپلوڅخه ډیر شد ید اوبی مثا له دی یعنی دالقاعدی دسازمان دغړو دکړنوڅخه د دغه اسلامی (داعش) دولت عمل څوبرابرلوړ دی دلته یوسوال را پیداکیږی او هغه داچی که چیری دغربی امپریالیزم دغه موجوده نظا می لاس وهنی په اسلامی نړی کی دوام وکړی نوهغه وخته به څه یو ډول غتیه بلا (هیولا) به په اسلا می نړی کی سر را وچته کړی ؟

------------------------------------------------------------ **په سلا مونو سره**

*2016-4-6*